# په ګډه مونږ کولئ شو د کوویډ۱۹(COVID-19) خپریدو سره مبارزه وکړو

## په کور پاتي شئ:

کورونا یو ساري ویروس دي. دا ښه وخت دي چي باید په کور کي خوندي پاتي شئ. خپل ځان او خپل عزیزان په خطر کي مه اچوئ.

باخبره اوسئ او د روغتیا په برخه کي د ماهرو روغتیاپالو تازه معلومات او مشوري دلته تعقیب کړئ:

https://www.health.nsw.gov.au/

د COVID-19 په اړه د لا معلوماتو لپاره د کوروناویروس ملي معلوماتو 1800 020 080 شمیرې ته زنګ ووهئ.

که تاسو ناروغه یاست او عاجل طبی مرستی ته اړتیا لرئ مهرباني وکړی 000 ته زنګ ووهي.

که تاسو اړتیا لرئ چی خپل GP (د کورنی ډاکتر) ووینې، د تلیفون له لاری طبی مشوره ستاسو په اختیار کی ده.

د ژباړې د خدمتونو لپاره په 131 450 شمیره اړیکه کي شئ.

## ازموینه یا ټیسټ وکړئ:

- که تاسو د وایروس کومه علامه یا نښانه ولرئ، سمدلاسه د COVID-19 ازموینه یا ټیسټ وکړئ حتي که ډیر کم هم وي.
- که تاسو کوم ځای لیدلی وی یا په عامه ټرانسپورټ کی د تایید شوی کووید-19 قضیی سره په ورته وخت کی سفر کړی وي
- که تاسو د یو ځانګړی وخت کی له خپل ایالت نه بهر داسی ځای کی وي چی هلته د کووید-19 قضیي موقعیت درلود
- که تاسو په COVID-19 مبتلا کس سره (د کورنی غړي، ملګری، همکاران) څوک چی:
  - په کوود-19 تایید شوی وی او یا
  - د کووید-19 د تایید شوی قضی سره نژدی تماس نیولی وی

**د مثبتي ازموینې یا ټیسټ پایله دا معني لري چي تاسو COVID-19 لرئ.**

ستاسو ډاکتر یا د عامي روغتیا اداره به تاسو ته مشوره درکړي

او همدارنګه د عامي روغتیا محلي اداره به تاسو سره د مرکي لپاره اړیکه ونیسي تر څو هغه خلک پیدا کړي چي تاسو سره نږدې پاتي شوي وي.

که مو ازموینه منفي وي، نو پدې معني ده چي تاسو COVID-19 نلرئ.

تاسو د نږدې ازموینې یا ټیسټ مرکزونو په اړه معلومات دلته کتلي شئ:

https://www.nsw.gov.au/covid-19/health-and-wellbeing/clinics

## واکسین وکړئ:

د COVID-19 واکسینونه خوندي او مؤثره دي. که مو نوبت رارسیدلي وي، مونږ تاسو هڅوو چي ژر تر ژره واکسین وکړئ.

د COVID-19 واکسین ته مو خپله وړتیا دلته معلومه کړئ

# په ګډه مونږ کولئ شو د کوویډ۱۹(COVID-19) خپریدو سره مبارزه وکړو

https://covid-vaccine.healthdirect.gov.au/eligibility?lang=en

که تاسو د واکسین کولو وړ یاست ، د نیوساوتویلز د روغتیا اداري نږدي واکسین کولو ځانګي یا خپل ډاکټر (GP) سره د واکسین کولو لپاره ځان ثبت کړئ. که تاسو وړ نه یاست، نو د ثبت د لاري به وکولی شئ چي په راتلونکي کي د واکسین د وړتیا تازه معلومات لاس ته راوړئ.

## د واکسین کولو مرکز:

په نیوساوتویلز کي تاسو ته نږدي د کوروناویروس دازمویني یا ټیسټ مرکز په نیوساوت ولز کی دلته موندلي شي:

https://covid-vaccine.healthdirect.gov.au/booking/search-results?userSuburb=%7B%22id%22:%22sydney;2000%22,%22centroid%22:%7B%22latitude%22:%22-33.8697%22,%22longitude%22:%22151.2099%22%7D,%22code%22:%222000%22,%22label%22:%22SYDNEY%22,%22state%22:%7B%22idRef%22:%22nhsd:%2Freference%2Fgeo%2FAUS.states%2FNSW%22,%22label%22:%22NSW%22%7D%7D&sid=ef63b616ec692e20238f7afd0926586b79c14c4e&page=1&sortByEarliest=false&offering=Pf&mcare=false&age=45&isVaccinated=false

د ژباړي د خدمتونو لپاره په 131 450 شمیره اړیکه کي شئ.

## د ذهني هوساینې سرچینې:

د کوروناویروس د ذهني هوساینې وړیا خدمتونو لپاره Beyond Blue ته په 1800 512 348 شمیره زنګ ووهئ او د روزل شوي مشاور سره خبرې وکړئ.

د ژباړي د خدمتونو لپاره په 131 450 شمیره اړیکه کي شئ.

د عاجلي ذهني روغتیا د مرستي لپاره د لایف لاین سره په 14 11 13 یا د کوچنیانو د مرستي لاین سره په

1800 55 1800 شمیرو اړیکه ونیسئ.

## مالي مرسته:

تاسو ممکن د ناورین د مالي مرستو مستحق اوسئ، که چیري تاسو د اوسني محدودیتونو له امله خپل کار له لاسه ورکړي وي نو د وړتیا لپاره د استرالیا د خدمتونو اداري (Services Australia) سره اړیکه ونیسئ.

**د COVID-19 په اړه دا معلومات د HOST International نړیوالي اداري لخوا راټول شوي او د نیوساوتویلز د روغتیا اداري د کلیدي پیغامونو سره یوځاي شوي دي.**